**مطبوعاتي اعلاميه: د ښځو نړيواله ورځ**

**په ۲۰۳۰ کال کې د ۵۰ - ۵۰ نړۍ : د جنسيت د برابرۍ لپاره ګام اخيستل**

**کابل، د ۲۰۱۶ کال د مارچ اتمه نېټه -** په افغانستان کې ملګري ملتونه نن د ښځو نړيواله ورځ لمانځي، چې په نړيواله کچه " په ۲۰۳۰ کال کې د ۵۰-۵۰ نړۍ " تر عنوان لاندې په نښه شوې ده څو د تبعيض او نابرابرۍ موجودې نمونې/ دودونه وننګول شي او په ټوله نړۍ کې د ښځو او نجونو د زړورتيا د هڅو او هوډ يادونه وشي.

په افغانستان کې په تيره لسيزه کې د جنسيت د برابرۍ په لړ کې د پام وړ پرمختګ شوی دی په ځانګړي ډول د تبعيض له منځه تلل د اساسي قانون په چوکاټ تضمين شوی، د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون ناوړه دودیزې کړنې جرمي عمل بللی او په دې وروستيو کې د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۳۲۵(۲۰۰۰) ګڼه پريکړه ليک، د عمل د ملي پلان تصويبول مهم ګام وو چې د رهبرۍ په برخه کې د ښځو د ونډې او د شخړو په مخنيوي، د سولې په مرکزونو او له جګړې راوروسته بهيرونو کې د هغوي د برخې اخيستنې د ودې لپاره د ژمنو څرګندونه کوي.

ملګري ملتونه همدارنګه په کار ځايونو کې د افغانستان د وزارتونو، پارلمان او مدني ټولنې په ګډون د زيات استازيتوب - او همدارنګه د هېواد په اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا کې د افغان ميرمنو د مهمې ونډې ستاينه کوي.

له دغو مهمو لاسته راوړنو سره سره افغان ميرمنې لاهم له زياتو ننګونو سره مخامخ دي، چې له هغو سياسي بهيرونو څخه يې مستثنی کوي، چې د سولې او امنيت لپاره حياتي دي. پردې سربيره د جګړې پراختيا دوام لري چې د افغانستان د ملکي وګړو په تيره بيا د افغان ميرمنو لپاره خورا زيات زيانونه رامنځته کوي، چې د ۲۰۱۴ کال پرتله په ۲۰۱۵ کال کې د ښځو په ولسي مرګ ژوبله کې ۳۷ سلنه زياتوالي راغلی دی.

د ښځو په وړاندې له تاوتريخوالي او زيان رسونکي کړنې چې په پرلپسې توګه د تبعيض څخه سرچينه اخلي د زياتې اندېښنې وړ دي. په ۲۰۱۵ کال کې ملګرو ملتونو د هېواد په کچه په عامه ژوند کې د ښځو د هدف ګرځونې، ګواښونه او ارعاب پېښې لېدل شوې دي ، په تيره بيا د هغو نامتو فعالانو په وړاندې چې د ښځو د حقونو د ودې او ترويج لپاره کار کوي.

پردې سربيره چې د رهبرۍ په رول کې د ښځو استازيتوب په تيرو کلونو کې ښه شوی، خو کافی نه دی او تر ډيره سمبولیک او د ولايتونو په مرکزونو پورې محدود دی. سربرکال د ښځو دورځې د لمانځنې په موخه په افغانستان کې ملګري ملتونه غواړي، چې لا ډير څه بايد ترسره شي چې د نا برابرۍ مخنيوي وشي او هغه ژمنې چې شوي دي د افغانستان د ښځو لپاره پر يوه واقعيت بدلې شي.

ملګري ملتونه په ځانګړي ډول له حکومت څخه غواړي چې د افغانستان دنړيوالو مکلفيتونو سره سم، په ملي کچه د جنسيت په برخه کې خپلې ژمنې په ځواکمنتيا سره پلي کړي - چې په دې کې د ښځو په وړاندې تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسيون – او په دې وروستيو کې د پايښت لرونکي پرمختيايي موخو لپاره تصويب شوي د ۲۰۳۰ کال نړيواله اجنډا شامل دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو دبرخې استازي الزيرا ساګينبايوا وويل: " د هغو لاسته راوړنو د ساتنې او د ښځو د حقونو وده د افغانستان لپاره ځکه مهمه او اړينه ده چې د با ثباته پرمختيا موخې تر لاسه شي ، په تيره بيا چې د ۲۰۳۰ کال د ۵۰-۵۰ هدف پر واقعيت واوړي."

آغلې ساګينبايوا ز ياته کړه چې ويجاړيدونکی امنيتي وضعيت چې د افغانستان لپاره د لېږد را وروسته يو نازک حالت دی، چې د افغانستان د ښځو د راتلونکي په اړه يې زياتې اندېښنې راولاړې کړی دي او د دې ډاډ بايد ترلاسه شي، چې د افغانستان د ښځو د سختو مبارزو لاسته راوړنې باوری شي او پر هغو معامله و نه شي يا له لاسه ونه وځي.

هغې وويل: " د ولسي جرګې او ولسوالیو د شورا ګانو په راتلونکو ټاکنو کې د ښځو د پام وړ ونډه د دغه بهیر د اعتبار او ټول شمولیت لپاره خورا زیات اهمیت لري. " نومورې په دې ټینګار وکړ چې افغان حکومت باید د ښځو حقونه او د سولې په هر ډول بهیر کې د هغوي مهم ګډون باوري کړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي ښاغلي نیکولاس هیسم وویل:" ښځې باید د ټول هېواد په کچه په ټولو سیاسي، ټولنیزو او پرمختیایي نوښتونو کې فعالانه ګډون ولري چې په کې د سولې هر ډول بهیر شامل دی."

د ملګرو ملتونو استازی چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي یوناما مشر دی وویل؛ د تل پاتې سولې او امنیت لپاره د ښځو د خورا مهم ګډون د پرمختګ لپاره نړیوال ارګان ژمن دی.

ښاغلي هیسم زیاته کړه چې د افغانستان نارینه او هلکان د ښځو په ځواکمنولو کې د کور، ټولنې او د کار ځای په کچه د جندر د برابرۍ لپاره مهم نقش لري.

ښاغلي هیسم وویل: " ملګري ملتونه د افغان میرمنو د لاسته راوړنو لمانځنه کوي او هغو تشو ته چې لا هم په واقعي ډول د افغانستان د ښځو او نجونو لپاره د جندر د برابرۍ په لار کې موجودي دي د رسیدګۍ لپاره غږ پورته کوي. "

###


د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:

**د ملګرو ملتونو د ښځو اداره**: hamayoon-sediqi@unwomen.org

**یوناما:** spokesperson-UNAMA@un.org